چې غوتې پسې وهې په لاس به در شي، چا ویل چې په دریاب کې گوهر نشته!

# د بریالي ژوند

# څو رازونه



Ketabton.com

لیکنه: فضل الرحمن "عادل"

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د بريالي ژوند څو رازونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کتاب پېژندنه


د کتاب نوم:... د بریالي څو ژوند رازونه

لیکنه:............فضل الرحمن (عادل)

اوډون:.........پخپله لیکوال

کال:............. ۱۴۰۰ لمریز

خپرونکی:...... خپله لیکوال

اړیکه: ۰۰۹۳۷۷۰۸۴۸۲۶۲

(c) ketabton.com: The Digital Library


# فهرست

سريزه .................................... 2
هوډ ( نيت ) ................................ 4
هدف .................................... 6
هڅه .................................... 8
هيله .................................... 10
همت .................................... 12
هنر .................................... 15
هوښ .................................... 18
هيښمه .................................... 21

(c) ketabton.com: The Digital Library


# سريزه

الحمد لله رب العلمين و الصلواة والسلام على رسوله الكريم؛
أما بعد :
که څه هم نن سبا د بريالي ژوند او يادا چې څرنګه کولی شو په ورځنيو چارو کې بريالي و اوسېږو د ډېرى افغان او خارجي تکړه او سترو پوهانو او ليکوالانو مؤثر کتابونه او مقالې خپرې شوې دي .
له دې منځه ما هم غوښتل چې د هغوی پر پله پل کېږدم او خپلو هيوادوالو ته يو څه وړاندې کړم چې بلآخر وتوانېدم او د ( هـ ) تورې په لمسون(انګېزه)مې د بريالي ژوند د رازونو په اړه له خپل توان سره سمې چې قرآني ايتونه او د نبي کريم ﷺ احاديث، همدارنګه د پوهانو غوره وېناوې په کې راغلي دي ليکنې وکړې .او له خپلو دغو ليکنو مې دا وړوکی کتابګوټی جوړ کړ په دې هيله چې د ګټې وړ مو وګرځي او داهيله لرم چې له نورو ملګرو سره مو يې هم شريك کړئ تر څو نور مسلمانان هم ګټه ترې واخلي .

فضل الرحمن" عادل"

(c) ketabton.com: The Digital Library


د بريالي ژوند دغه رازونه په لاندې ترتيب سره واضح شوي دي .

١ : هوډ (نيت، قصد ، اراده) ...

٢ : هدف (موخه، مقصد ، غرض) ...

٣ : هڅه (کوښښ، زيار) ...

۴ : هيله (غوښتنه، اميد) ...

۵ : همت (زړورتيا ، عزم، ميړانه)...

۶ : هنر (کسب، کار، مسلك) ...

٧ : هوښ (پوهه، بيداري، ويښتيا) ...

٨ : هيښمه (کنټرول، تنظيمول)...

(c) ketabton.com: The Digital Library


# هوډ ( نیت )

له ارادي غوښتنې او تصميم سره يوې کړنې او کار ته مخه کول، يا په بله وينا د يوې کړنې طرف ته ځان متوجه کولو ته هوډ وايي .

لکه يو انجينر چې يوې ودانۍ او کور ته نقشه جوړوي، نو آيا پرته له نقشې د کور او ودانۍ جوړول شونې دي!؟ ځواب همدادی چې هيڅکله نه .

يا لکه يو کراچۍ وان چې د پلورلو لپاره په کراچۍ (ريړه) کې سبزيجات او د پلورلو وړ شيان واچوي.

دې ته نيت، هوډ ، قصد ، تصميم او اراده وايي .

د يو کار او کړنې لپاره له هر څه نه مخکې په لومړي سر کې هوډ او قصد کول اړين او لازمي دی، ځکه پرته له هوډه هيڅ سمه کړنه شونې نه ده تر دې پورې چې له نيت او هوډ پرته د الله (ج) پر وړاندې هم عملونه د قبول وړ نه دي .

د بشريت سترلارښود (ﷺ) ويلې دي ((**انما الاعمال بالنية، وانما لامرئ ما نوى**)).

وايي :کړنې (عملونه) په نيت سره دي که دې يې هوډ او اراده کړې وه منل کېږي حسابيږي او کنه نو نه ګڼل کېږي، او

(c) ketabton.com: The Digital Library


همدارنګه وايي د يو چا لپاره هغه څه دي چې نيت يې کړی وي نو که د خير يو کار کوې تاته به يې هم خير ورسېږي الله ﷻ به درنه خوښ سي .که د کوم څه د لاسته راوړلو هوډ وکړې الله ﷻ خامخا دا توان در کوي چې تر لاسه يې کړې .په د نيا کې هيڅ دا سې څه نشته چې يو څوك يې هوډ وکړي او ترلاسه يې نه کړي!.
او هيڅ داسې څه نشته چې لاسته يې راوړي او هوډ يې نه وي کړی، او کومو خلکو ته چې پرته له هوډه کوم څه لاسته ورځي هغوی يې ورتيا لري .
زموږ او تاسو په ټولنه کې که له بې تعليمه وګړو پوښتنه وکړې چې ولې زدکړې درنه پاتې شوې ځواب يې همدا وي چې هوډ يې نه درلود .
پوهان وايي وای هوډ د ځواکونو پاچا دی !کله چې باچا امر کوی رعيت پرته له څه ويلو هغه ته غاړه ږدي، نو کله چې د يو کار لپاره هوډ وکړل شي ذهني او بدني ځواکونه خپله په کار پيل کوي او د ترلاسه کولو لپاره يې هلې ځلې کوي او بلاخره يې مومي .

(c) ketabton.com: The Digital Library


# هدف

د بریالي ژوند یو بل راز موخه (هدف) دی .
هدف یاني مقصد ، مطلب، غوښتنه، غرض او موخه :هغه
مطلب او غوښتنه ده چې اراده ورته متوجه وي .
یا پر بله وینا هغه غوښتنه ده چې د لاسته راوړلو لپاره یې تا
اراده کړې وي .
لکه یو ښکاري (صیاد) چې ښکار په نښه کوي، نو که ښکار
(حیوان یا بل څه) په نښه کې را نه ولي موخه و نه نیسي نو آیا
غوښتنه به یې پوره شي!؟ هیڅکله نه تر څو چې هدف ونه نیسي
او ځیر ونه اوسي .
په دې هر څوك پوهېږي چې هدف څه ته وایي خو په ژوند کې
داسې هدف ټاکل لکه څرنګه چې ښکاري ته د ښکار په وخت
کې جګ جګ وانبه (ګیاوې) لوړې ژورې او ونې مخې ته راځي
خو
دی خپل ښکار ته ځیر وي پوره هڅه کوي او له نظره یې نه
اچوي، په عادي ژوند کې هم ستونزې راځي مشکلات پیښیږي
خو هدف هیڅکه باید له پامه ونه غورځول شي له بې زړه توبه
ځان وساته ځکه کوم هدف چې دي ټاکلی خامخا یې تر لاسه
کوې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو کله نا کله څوك له ناکامۍ سره هم مخ کېږي، چې د هغه ضد هيله ده هيله به هيڅکله هم له لاسه نه ورکوي!.

الله ﷻ وايي((قَالَ وَمَن يَقْنَطُ مِن رَّحْمَةِ رَبِّهِۦٓ إِلَّا ٱلضَّآلُّونَ)) (سُوْرَةُ الحِجر 56 :)

ابراهيم (ع) وويل" :د خپل رب له رحمت څخه خو ګمراهان ناهيلي کيږي.

ګمراهان لارورکي غافل وګړي ناهيلي کېږي .

نو ځان له غفلت څخه وژغوره هيله من اوسه او هدف تر لاسه کړه!.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# هڅه

د بريالي ژوند دوهم راز هڅه، هاند ، کوښښ، لټون، تلاښ، زحمت، زيار او سعيه ده .
له آره دوی ټوال مترادف وييونه (الفاظ) دي مانا او مقصد يې يو دی چې هغه د يو څه اراده او غوښتنه کول دي يا د يوې کړنې د تر سره کولو لپاره خپل اندامونه په حرکت راوستل دي .
لکه څرنګه چې د عالمونو پالونکي ستر څښتن تعالی ﷻ ويلي دي ((وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَٰنِ إِلَّا مَا سَعَىٰ !)) (سُورَةُ النّجم 39 : )
او دا چې د انسان لپاره  د کړنو بدله پرته د هغه د تلاښ او کوښښ څخه بل هيڅ نشته؛ ياني د کوم څه تلاښ چې يې کړې وي او هڅې يې په کې کړې وي د هغه هر څه بدله به مومي، او که يې نه وي کړي خالي لاس به پاتې شي .
په پښتو کې يو مشهور متل دی وای بې زحمته راحت نشته .!
نو د راحت لپاره د بريالي ژوند لپاره لکه څرنګه چې هوډ اړين دی همدارنګه هڅه او زيار هم اړين دی .
د زيار په واسطه کولی شو د هر ډول ستونزې حل و مومو .
وای چې غوټې پسې وهې په لاس به درشي، چا ويل چې په درياب کې ګوهر نشته .!

(c) ketabton.com: The Digital Library


د هر څه پسې چې هڅه وکړې هرمرو لاسته درځي!.
ډېرى وګړي بیا هڅه او تلاښ نه کوي وایي دا ژوند ټول تقدیر دی څه چې لیکلي وي هغه به راپېښېږي دا بلکل غلط ګمان دی په ژوند کې د بریا لپاره هڅه او تلاښ اړین دي .
عبد الرحمن بابا (رح) څه ښه وایي:

چه نظر کړم په قسمت او په نصیب
راته هیڅ شي خپل تالاش و خپل ترتیب.

پوهان وایي څوك چې طالع (بخت) ته ګوري هغوی لاله پخوا څخه مړه دي! نو ځانونه مه مړه کوئ هڅه وکړئ ځانونه بریاته ورسوئ .
بریالی ژوند یاني هیڅ چاته نه اړ کېدل!.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# هيله

د بريالي ژوند يوبل راز هيله ده .
هيله ياني غوښتنه، ارزو، اميد ، تمنا ، تلوسه .
نو که د کوم څه تر لاسه کول حاصلول غواړې هيله يې وکړه او په طرف يې مزل پيل کړه لکه څرنګه چې ستر څښتن تعالی ﷻ ويلي: ((فَمَن كَانَ يَرْجُوا لِقَآءَ رَبِّهِۦ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَٰلِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِۦٓ أَحَدًۢا)). (سُوْرَةُ الكهف110)
ژباړه: نو څوک چي له خپل پروردګار سره د يو ځای کېدو په هيله وي، هغه ته په کار ده چي ښه عمل وکړي او په بندګۍ کي له خپل رب سره بل څوک شريک نکړي.
مطلب د هيلې د پوره کېدلو او مطلب تر لاسه کولو لپاره عمل ډېر اړين دی، هغه که دنياوي وي يا اخروي يي، همدارنګه له ناسم بېګټې، شيطاني، زهري او وژونکي فکرونه له ځانه لري غورځول او د روښانه راتلونکي په اړه فکر کول مو هيلو ته ځواکمنتيا ور ښيي .!
خو که بې ارزښته فکرونه مو کول، واړه کارونه مو ځانته په بېځايه سوچ غتهول او ځان مو نه ترې وژغوره، ورځنی ژوند به مو

(c) ketabton.com: The Digital Library


تریخ او او د شاوخوا خلکو سره به مو هم اړیکې بې خونده وي، هغوی به هم ځان درڅخه ښنګ ته کوي او هیلې به دي ورځ په ورځ مړاوي کیږي.!

نا هیلي د بریالیو او هوښیارو خلکو کار نه دی بلکې د ناپوهو او لار ورکو خلکو کار دی، کوم چې په خپله ښه او بده نه پوهیږي .

همدارنګه الله ﷻ فرمایلي دي :چې د خپل رب له رحمت (لوروني) څخه ګمراهان (لارورکي) ناهیلي کیږي .

ځان له ګمراهي څخه وساته تل له الله ﷻ څخه غوښتنه وکړه دعاء وکړه هغه یوازنی ستر او پوره لورونکی دی کوم چې تاته یې شتون درکړی تاته یې تر دې مهاله ژوند او توان درکړی، سفر وکړه خلك وګوره په خپل ځان شکر وکړه او هیله من و اوسه ! او د مطلب د حاصلولو لپاره تل تیار اوسه!.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# همت

د بریالي ژوند پنځم راز همت (زړورتیا) ده .
همت یاني مېړانه، زړورتیا ، بهادري، اراده، غوښتل، ډېر کوښښ کول، عزم، غټ نظرلرل!.
د ژوند هره کړنه په همت سره کېږي، همت (زړورتیا) مو د ژوند لوړو پوړیو ته رسوي!.
کله نا کله په ژوند کې ستر چانسونه او فرصتونه مخ ته راځي نو په هغه وخت کې همت پکار دی، که څه هم ستونزې ولرې خو په دې خبر اوسه چې چانسونه هر وخت نه وي خپل نظر (لیدلوری) دې پراخ کړه زړورتیا وکړه او دا چانس هم وازمویه او باوري و اوسېږه ځکه ته دا کار کوې ! او کولی یې شې! او ته د دې کار وړتیا لرې .!
همت د وېرې ضد دی وېره یاني څه!؟ ولې ډارېږې!؟ دا ډار له کومه سوی!؟ لکه څرنګه چې زړورتیا او همت انسان لوړو پوړیو ته رسوي همدارنګه وېره یې ښکته را غورځوي وېره هسې یو شیطاني پدیده ده ځان ترې ساتل خپله بریالیتوب دی! ځکه الله (ﷻ) عقل فکر او سوچ در کړی ښه او بد درك کولی او

(c) ketabton.com: The Digital Library


مالومولی شي نو بیا ډار د څه لپاره!.
دا ښکاره ده چې درك او احساس يو څه درکوي او وېره ده چې
تل دي له يو څه ته رسېدلو او د يو څه له لاسته راوړلو منع کوي .
نو د يو څه عزم کول او پر ځان باوري کېدل او د لاسته راوړلو
اراده يې کول خامخا به هغه څيز ته رسېږې او تر لاسه کوې به
يې!.
دا که د يو څه د لاسته راوړلو لپاره زړورتيا او همت وکړې او
لاسته يې راوړي خو بريا دي تر لاسه کړه کامياب شوې، خو که
بريالی نه شوې هيڅ تاوان دي هم نه دی کړی ځکه اوس هم همغه
فکر لاسونه پښې او وجود لرې مخکې هم همداسې وې!.
نو لوړ همت کول د برياليتوب ضامن دی لکه څرنګه چې
عبدالرحمن بابا (رح) وايي :

چه کامله اراده لري په زړه کې
د مرشد له اشارته بې ارشاد وي!.

مطلب د کو څه لپاره چې پوره اداره لرې نو پرته د لارښود له
لارښوونې خپله دا اراده لارښوونه ده، او خپل مطلب ته به
رسېږې!.
نو همت کول پکار دي، په کېناستلو هيڅ نه کېږي ځکه که
ناست هم يې عمر تېرېږي او که بوخت يې هم عمر تېرېږي خو د
مرګ نېټه نه ده مالومه نو داسې ژوند کول پکار دي چې مرګ

(c) ketabton.com: The Digital Library


دي خلك ضايع وبولي او در پسې وژاړي .
په پښتو كې يو متل دى واى مېړونه مري نومونه يې پاتې كېږي
دا د با همته خلكو ستاينه كوي نو مېړانه كول پكار ده په بې
همتىِ سره هيڅ هم لاسته نه راځي!.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# هنر

د بريالي ژوند يو بل راز هنر (کسب او زدکړه) ده .
هنر ياني فن، کمال، زدکړه، کسب، مهارت، پېشه، تخنيك، جوهر .
حلال هنر (کار او کسب) زده کول او له دې لارې روزي پيدا کول فرض او واجب دي .
هنر زده کول دې شخصيت لوړوي تر څو چې زيات کمالونه زدکړې هغومره زياتې ستونزې به له منځه يوسې او اسانی به رامنځته کړې!، په هغه اندازه به له مجبورۍ خلاص شې او هغه ټولې اړتياوې به دې پوره شي .
رسول الله ﷺ ويلې دي: ((**مَا أَكَلَ أَحَدٌ طَعَامًا قَطُّ خَيْرًا مِنْ أَنْ يَأْكُلَ مِنْ عَمَلِ يَدَيْهِ، وَإِنَّ نَبِيَّ اللَّهِ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ كَانَ يَأْكُلُ مِنْ عَمَلِ يَدَيْهِ**)).
(**رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ**).
له مقداد (رض) نه روايت دی وايي :رسول الله ﷺ وويل :هيڅوا کله داسې خوراك نه دی کړی چې غوره (بهتر) وي له هغه خوراکه چې پخپل لاس يې ګټلی وي ــ ځکه د الله ﷻ نبي داود(ع) چې و د خپل لاس له ګټې به يې خوړل.
ياني کوم څه چې پخپله کارکولو سره پخپل هنر او کسب وګټې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ډېر غوره پاك او بهتر دي له هغو څخه چې بل چا ګټلي وي .
په دې کې توجه او لاربښوونه ده حلا کسب (هنر) او کار ته؛ ځکه په حلال کار کې ډېري ګټې دي د هغو له جملې :
۱ : د اجرت (مزدوري) په اخیستلو کاریګر ته ګټه ترې رسېږي، کله چې بل چاته کار کوي، او که د تجارت کار و زیادت په اصلي پیسو (رأس المال) راځي .
۲ : خلکو ته ګټه ترې رسېږي د هغوی د کالیو لوښو خوراکي توکو او داسې نوري اړتیاوي پوره کېږي، همدارنګه هغه څه چې په کوښښ سره تر لاسه کېږي لکه د ونو کرل د فصلونو او مېوو کرلو ریبلو اړتیاوي پوره کېږي .
۳ : کاریګر (مزدور) له بېکارۍ او بېلارۍ او زړه توري څخه پرې مشغولېږي .
۴ : نفس یې ماتېږي سرکشي او کبر یې کمېږي .
۵ : له سپك سوال کولو نورو ته له احتیاج (اړکېدلو) څخه خلاصېږي .
د کاریګر شرط داده چې په دې عقیده به نه وي چې دا رزق او روزي کار او کسب راکوي، بلکې رزق او روزی د الله ﷻ له لوري ده .
کار کول د انبیاؤ سنت او ټګلاره ده ځکه داود ؈ به زغرې جوړولې او خرڅولې به یې او له دې لارې به یې ځان ته روزي او مال پیدا کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو په کار کې دومره بوختېدل نه دي پکار چې عبادت پرې پاتې شي، بلکې کار پخپل ځای او عبادت پخپل ځای ځيني وګړي کار کوي خو عبادت ورته پرېږدي چې دا جهالت او ګمراهي ده عبادت په هيڅ شي هم نه شي پرېښودل کېدلی ځکه الله ﷻ انسانان او پېريان د عبادت لپاره پيداکړي دي .

خوشحال خان بابا (رح) څه ښه وايي :

که طالع او هنر دواړه سره کښېنږدی
زه خوشحال به پکې ونيسم هنر !

طالع ته کتل کار او کسب نه زده کول بل چاته تمه کول دا هغه څه دي چې سړی له سرېتوبه اچوي بذدله کوي يې جرأت يې له منځه وړي تل به يې بل چاته لاس نيولی وي سوال به کوي خلك به په بد نظر ورته ګوري، بلآخره به تنګ ژوند لري له ژونده به يې هم زړه تور وي له خلکو هم، الله ﷻبه هم ترې ناراضه وي ،نو هنر زده کول په ځان اړين کړئ تر څو له داډول مشکلاتو وژغورل شئ!.

په پښتو کې يو متل دی وای هنر زده کړه د کندو شاته يې واچوه!.

ياني کار زده کړه بس کله چې دي اړتيا شوه کار ترې واخله ستونزه دي پرې حل کړه؛ کنه تاوان خو دې نه دی کړی نه کوم پېټی دی چې سترې به دي کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library


## هوښ

د بريالي ژوند اووم راز هوښ ( بيداري او ځرکتيا ) ده .
هوښ ياني عقل، فکر، پوهه، بيداري، ځيرکتيا ، او ويښتيا ته وايي چې د ويده کېدلو هېرېدلو بې خبري ضد ده .
الله ﷻ څه ويلي دي :((إِنَّ شَرَّ الدَّوَابِّ عِندَ اللَّهِ الصُّمُّ الْبُكْمُ الَّذِينَ لَا يَعْقِلُونَ)) (سُوْرَةُ الأَنفَال22 : )
ژباړه :په يقيني توګه، د خدای په نزد د ساه کښانو ډېره بده نوعه، هغه کاڼه، ګونګيان خلک دي چې له پوهې څخه کار نه اخلي!.
ياني د ژوند په هر کار کې فکر وکړه ! ځان له کوڼوالي او ګونګوالي وساته ! په ګټه او تاوان يې ځان خبر کړه ! غوره او ګټهور يې وټاکه تر څو د بدو مخلوقاتو په ټولۍ کې رانشې!.
د ژوند په هره چاره کې بيدار اوسېدل پکار دي، کار پخپل وخت سره کول او له غفلت نه ځان ساتل ژر د ستونزو په مقابل کې درېدل د ستونزو حل لاره لټول او ستونزې حل کول دا هغه څه دي چې وخت مو بچت کوي او کولی شئ په نور وخت کې ډېر څه لاسته راوړئ!.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هوښیار اوسېدل د کارونو او پېښنو د حل لپاره عقل په کار اچول فکر کول؛ یا د یو کار شروع کولو لپاره له داسې وګړو سره مشوره کول چې په دې کار او هنر پوهېږي . د کار کولو لپاره زر تر زره لاس په کار کېدل نقشه او پلان جوړول وخت له لاسه نه ورکول همدا بریا ده .

عبد الرحمن بابا (رح) څه ښه وایي :

نن چه صبح ده روښانه لار صحیح کړه

ناګهانه به دا صبحه شب تار شي !.

مطلب بیدار اوسه هر کار پخپل وخت او ځای سره وکړه او له ځنډولو یې ځان وساته؛ ځکه شوني ده بیا دا موکه (موقع) په لاس در نشي په ژوند او ورځنیو پېښنو او راتلونکو ځنډونو هیڅ باور نشته .

وایي :

(( په دنیا کښې خوب هغه کا چه نادان وي

هغه څوك چه طلبګار وي څه به خوب کا

کوم طالب مطلوب موندلي دي په خوب کښې

چه مطلب د چا دیدار وي څه به خوب کا))

مطلب که په ژوند کې کامیابي او بریالیتوب غواړې نو بیدار او سه له هرې موکې ځان خبروه له پوهو او بریالیو خلکو سره اړیکه ټینګې کړه پوهه تر لاسه کړه ځکه پوهنه رڼاده او همدغه رڼا ستا

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ژوند تګلاري روښانوي!.
په پښتو کې یو متل دی وای بې علمه سړی ړوند دی !بلکل بې علمي په دې مانا که ته یو کار شروع کوې او په هغه دي ځان پوه کړ نو د هغه کار په اړه ته عالم شوې او هغه کار او کړنه درته روښانه ده او کنه نو بیا به لکه ړوند ورته ګورې خو کولی به یې نه شې ځکه چې په اړه دي یې پوهه نه ده تر لاسه کړې او نه یې شې کولی چې د نه لیدلو په مانا ده!.
نو د هر کار په اړه پوهه تر لاسه کړه تر څو دي سترګې روښانه شي او ویښ شې او بریالیتوب وموميې!.
یو کار په تیاره کې داسې نه کیږي لکه په روښنایي کې نو تر څو چې یوه کړنه په باطني نظر (پټ لید) چې عقل او فکر دی روښانه نه کړې آیا د هغه کول شوني دي!؟ نه تر څو چې ځان ویښ نه کړې او کړنه روښانه نه کړې،نو په ورځني ژوند کې د بریالیتوب لپاره اړینه ده چې ویښ شې!.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## هینبمه

د بريالي ژوند بل راز هینبمه (کنټرول) دی .
هینبمه یاني کنټرول، بیا کتنه، تنظیمول، ساتنه کول ...
ژوند بیلابېل اړخونه لري لکه له وګړو (خلکو) سره اړیکې،
زدکړې کول، مجلسونه او غونډې، مسافري، کور پاتي کېدل،
کاروبار، د مال ګټل لاسته راوړل، مال خرڅه کول لګول او داسې
نور ټول ....
په دې ټولو کې په ځان کنټرول او ځاني نظم ساتل ډېر اړین دي .
له خپلوانو او دوستانو سره خپلوي پاله!، او له نېکو خلکو سره
ملګرتیا کوه!، له هغو خلکو سره ناسته پاسته کوه!، چې ستاسو
اوستا د مسلك يا ستاسو د کاروبار په قدر پوهېږي او تاسو
هڅوي تر ځو خپل کار په خوبنۍ او له زړه نه وکړئ!.
او له هغو خلکو نه چې بېکاره دي يا کار کولو ته زړه نه ښه
کوي تل شکایتونه کوي ځان لرې کړه ځکه همدغه خلك منفي
فکر خپروي مفت خواړه او پیسې او بریا غواړي خو هیڅ هم
لاسته نه ورځي ځکه دوی حرص کوي يا کار نه کوي يا په یوخت
ډېرو خواو ته لاس اچوي او په دې کار سره به هيڅ هم لاسته
ورنشي.
په پښتو کې يو متل دی وای ( چې اوسې په خوی به د هغو سې (

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو که غوارې بریا تر لاسه کړې له ناکامو خلکو لرې شه!.

رزق او کامیابي ورکونکی الله ﷻ دی خو که څوك په الله ﷻتوکل وکړي ((**وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ**)). (**سُوْرَةُ الطّلَاقِ**3 : )

ژباړه-(او هغه ته به له داسي لاري څخه روزي ورکړي، چي هغه لوري ته يې ګومان هم نه رسيږي .څوک چي پر الله توکُل وکړي، د هغه لپاره الله کافي دی.

خپلې چارې الله ﷻ ته پرېښودل او لاس پکار کېدل له بېلاري او غفلت نه ځان ساتل همدا توکل دی .

همدارنګه در هر څه لپاره پلان جوړول تر څو مو وخت بې ځایه ضایع نه شي ځکه رسول الله ﷺ ویلي دي :((**من حسن اسلام المرء ترکه ما لا یعنیه.**)) (**رواه مالک واحمد**).

رسول الله ﷺ ویلي دي د سړي له غوره او ښې مسلمانې یانې د یو چا د اسلامي ښکلاګانو له جملې او د ایمان له بشپړتیا دا هم دي چې هغه څه پرېږدي چې ګټه نه ورته رسوي!. یانې چې مهم او د ده وړ نه وي هغه که خبري وي یا کار وي یا سیل او کتل وي یا فکر وي!.

همدارنګه په مجلسونو کې خپله ژبه له غیبت تهمت دروغو او فحش نه ساتل پکار دي ځکه دا کارو مو ورځنی ژوند بې خونده کوي او اړیکې مو خرابوي او د الله ﷻ د نا رضایي سبب ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په مال ګټلو کاروبار کې هم له دوکې او دروغو ځان وساته ځکه که دا کار وکړې مال دې بې برکته کیږي او د الله ﷻ پر وړاندې هم مجرم ګڼل کیږې!.

په مال خرچ کولو مصرفولو کې پوره دقت کوه خپل ځان کورنۍ او ټولنه له دې کاره وساته؛ ځکه چې الله ﷻ فرمايلې دي:((**إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُوا إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِرَبِّهِ كَفُورًا**))(الإسراء 27:17)

ژباړه -(بې ځایه لګښت کوونکي د شیطان وروڼه دي او شیطان د خپل رب ناشکره دی.

هغه خلك چې خپل مالونه په ګناه کې لګوي او په دې لګولو کې اسراف کوي دوی د شیطانانو وروڼه دي، ځکه دوی د هغوی اطاعت او منته کوي په هغه څه کې چې هغوی امر ورته کوي چې هغه خرچه او اسراف دی، او شیطان خو ناشکر دی د خپل رب ځکه هیڅ داسې کار نه کوي چې په هغه کې دې ګناه نه وي، او په هیڅ داسې څه امر نه کوي چې په هغه دې الله ﷻ په قهر نه شي .

نو ځان کنټرولول پکار دي تر څو هم اخروي بریا تر لاسه کړو چې د الله ﷻرضا ده او هو دنیوي چې مال به مو ساتلی (محفوظ) وي!.

(c) ketabton.com: The Digital Library


اسلام يوازينی حق دين دی چې د انسانانو ټولي ګټې او برياوې په کې نغښتې دي!.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**